مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۱/۱۱/۱۸

# مــوری!

رنگ پـه رنگ د بوډی تال یی
د مـاشـوم د سـترګـو حـال یی

مــوری و غــړوه ســترګی
د اخــتـر د ورځـی فـال یــی

د هــنر بــلـــه ډیـــوه یـــی
تـه کتاب یــی تـــه کمـال یی

د خــــزان زیـــړیـــه لمـــره
تــوره شــپه کی تــه مشـال یی

لـــه جنــتــه یـــی را اوښتی
تــه د خدی د شتو مثــال یـــی

تــه خالق یی تــه مخلوق یـــی
تـــه بقــا یی تـــه وصـــال یـــی

تــه کمـــال یی تـــه جمال یی
رنګ پـه رنګ د بـوډی تال یـی

مـــوری و غـــړوه ســـترګی
د اخـتــر د ورځی فـال یی

ولـــی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ